DA AFGHANISTAN BANK

## د افغانستان بانک

د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت

مقرراتي معاونیت

ګڼه: ۲۲۶۴ مم ۱۷۷۳ الی ۱۷۸۹

نېټه: ۱۴۴۷/۲/۱۰
۱۴۰۴/۵/۱۳

بسم الله الرحمن الرحیم

**ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

**موضوع: د مدغم، منحل او مسدود شویو اداراتو د بانکي تضميناتو په اړه**

له ډېر درناوي وروسته؛

لکه څرنګه چې په جریان کې یاست، مجوزو بانکونو یو شمېر وزارتونو، خپلواکو ادارو، سفارتونو، نړیوال بنسټونو او شرکتونو لپاره بانکي تضمینونه صادر کړي وو چې د افغانستان د اسلامي امارت له فتحې څخه وروسته یو شمیر بنسټونه/اداري منحل، مدغم او یا هم مسدود شوي دي.

هغه شرکتونه چې د یادو ادارو لپاره یې بانکي تضمینونه صادر کړي دي او غواړي چې یاد تضمینونه استرداد یا آزاد کړي، په اړوند یې د افغانستان بانک قدرمن عامل پلاوي د ٦٣ ګڼې ۱۴۴۷/۲/۹ نېټې پرېکړې پر اساس ټولو مجوزو بانکونو ته لارښوونه کیږي چې د تضميناتو د استرداد یا آزادولو په وخت کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

- کوم وزارت/ اداره چې د بل وزارت/ ادارې سره مدغم شوي وي، شرکتونه کولای شي د اړوند مدغم شوي (مدغم فیه) وزارت/ادارې څخه خپل اصل ضمانت لیک او د عدم مسئولیت لیک بانک ته وړاندې کړي. او بانک اړ دی د افغانستان بانک له لورې د ۱۴۹۳۱ ګڼې ۱۴۰۴/۳/۲۵ نېټې متحدالمال مطابق کړنې ترسره کړي.
- کوم وزارت/اداره چې منحل شوې وي، شرکتونه کولای شي د افغانستان اسلامي امارت د چارو ادارې قدرمن لوی ریاست ته مراجعه وکړي او یاد ریاست څخه خپل عدم مسئولیت لیک او اصل ضمانت لیک تر لاسه کړي. او بانک اړ دی د افغانستان بانک له لورې د ۱۴۹۳۱ ګڼې ۱۴۰۴/۳/۲۵ نېټې متحدالمال مطابق کړنې ترسره کړي.
- کوم سفارت/ نړیوال نهاد یا اداره چې د اوس لپاره بند او شتون ونه لري، اړونده پیسې دې د یادو نهادونو تر راتلو پورې د بانکونو سره وساتل شي. او د غیر فعالو حسابونو (Dormant) د اصولو پر اساس دې اجراآت ترسره شي.

- هغه ذینفع اداري، سفارتونه او ارګانونه چې اوس هیواد کې شتون نه لري، او شرکت د خپل ضمانت لیک د ازادولو غوښتنه وکړي، شرکت کولای شي چې د خپلو اړوند اسنادو سره قدرمنې محکمې ته مراجعه وکړي، د محکمې تر پرېکړې وروسته بانک اړ دی چې د محکمې د پرېکړې مطابق کړنې ترسره کړي.

بناءً موضوع په پورته ډول له ټولو مجوزو بانکونو سره شریکه شوه، په اړوند یې د پورته ذکر شوې پرېکړې مطابق کړنې ترسره کړئ.

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټې اخیستنې ستاسو د بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۵ / ۲ / ۱۴۴۷

**صدیق الله خالد**

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپي:**

- **د چارو اداري قدرمن لوی ریاست ته**

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۱۴۶ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af
ټولنیزې شبکې: فیسبوک - د افغانستان بانک / ایکس پاڼه – @AFGCentralbank / انسټا